التعليم فوق الجميع | education above all

# کتار کې تنظیمېدل

| | |
|---|---|
| **کچه** | ابتدایي (د عمر ګروپ ۴ – ۵ کال) |
| **اړین توکي** | په یادښتونو نښلېدونکي سټېکرونه یا واړه واړه مستطیل شکله کاغذونه |
| **د اړینو توکو بدیلونه** | د کاغذ یوه کوچنۍ نښلېدونکې ټوټه – غټان کولای شي هر قسم سرېښناکه مواد (لکه سرېښ، ربړ ټیپ، ژاوله، کنډ او داسې نور) وکاروي تر څو د کمیس پر شا د لیبل په توګه یې پورې کړي. |
| **تر پوښښ لاندې راوستل کېدونکې برخې** | عددونه او عملیات |
| **هدفي مهارتونه** | د عددونو لوستل او د عددونو ترتیبول |
| **د انګېزه اخیستنې سرچینه** | [د درېیمې دورې زده کړه (Third Space Learning)](#) – الیګزانډر ایټینټېس |
| **اړین وخت** | د تنظیمېدو خت: ۱۰ دقیقې<br>د لوبې وخت: ۱۵ دقیقې |
| **پخواني اړین درس** | - له ۱ – ۲۰ پورې د عددونو پوهه<br>- د عددونو د ترتیبولو پوهه<br>- د عددونو د پرتله کولو پوهه |
| **اړین ملاتړ** | د منځنۍ کچې نظارت |

د لوبې قواعد:

| | |
|---|---|
| **موخه** | هڅه وکړئ چې لومړی ټیم چې خپل لوبغاړي په سمه توګه کتار کړئ. |
| **قواعد** | د بېلا بېلو عمرونو ماشومانو ۲ یا زیات ګروپونه باید وي |
| **ګامونه** | لومړی ګام: د ټیمونو/ډلو له مخې په مساوي توګه د زده کوونکو په ویشلو سره پیل وکړئ او د پرله پسې شمېرو درلودونکي کاغذونه د هر ماشوم په شا باندې ونښلوئ. هڅه وکړئ چې لږ تر لږه ۲ – ۳ ټیمونه جوړ کړئ.<br><br>دویم ګام: زده کوونکي به هغه شمېره لولي چې د هغوی د خپل ټیم هر ملګری یې په خپله ملا لري.<br><br>درېیم ګام: بیا د یوه ټیم په توګه د عددونو په کتار کې، له ټولو کوچنې څخه تر ټولو غټ عدد پورې، د هغه شمېرو له مخې چې دوی ته ورکړل شوي دي، تنظیمېدو لپاره منډه وکړئ.<br><br>څلورم ګام: لومړی ټیم چې په سمه توګه په کتار کې تنظیمېدنه سر ته رسوي، ګټونکی دی. |
| **عکسونه یا انځورونه** | نه لري |
| **د لوبې متفاوت ډولونه** | ټیمونه اړ دي چې له تر ټولو غټ څخه تر ټولو کوچني عدد په ترتیب سره په کتاب کې تنظیم شي. (خبرې کول بند دي) |
| **بډاینه** | غټ عددونه وکاروئ او/یا په عددونو کې تشې ورزیاتې کړئ تر څو دا لوبه د زده کوونکو لپاره لا ډېره سخته شي. د بېلګې په ډول: لومړی ماشوم ۵ اخلي، دویم ماشوم ۲۱ اخلي، درېیم ماشوم ۵۷ اخلي، څلورم ماشوم ۹۰ اخلي، پنځم ماشوم ۱۰۵ اخلي او داسې نور. |
| **ساده کول** | یوازې له ۱- ۱۰ پورې عددونه وکاروئ<br>د عددونو د لیکلو پر ځای، د بېلا بېل شمېر څیزونو انځورونه رسم کړئ (بېلګه: ۳ مڼې، ۶ مڼې، ۱ مڼه، او داسې نور) |